سر یال نمبر: 98

بسم الله الرحمن الرحيم

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# د خیبر پښتونخوا پولیس زړور افسر
# ډي ایس پي اقبال مهمند د شهادت لوړه درجه ترلاسه کړې ده



په لکی مروت، صدر پولیس سټیشن کې تعینات افسرانو تیره شپه د ترهګرو برید په زړورتیا سره مقابله وکړه او ترهګر یې په تیښته مجبور کړل۔

په سیمه کې پوسټ شوي ډي ایس پي اقبال مهمند سمدستي یو پارټي جوړ کړ او د خپل ژوند پروا نه بغیر د تښتیدلو ترهګرو تعاقب وکړ او یو شمیر ترهګر یې ووژل او ژوبل کړل۔ د همدې تعقب په مهال د ډي ایس پي اقبال مهمند موټر له بارودي موادو سره ټکر شو او هغه له خپلو درې نورو ملګرو سره د شهادت ستر مقام ترلاسه کړ۔

شهید ډي ایس پي اقبال مهمند یو ډېر فرض شناس، زړور او د ولس سره مینه لرونکی پولیس افسر و، چې په خپل ۲۴ کلن خدمت کې یې ډېر بریالي عملیات کړي او ګڼ شمېر مطلوب ترهګر یې وژلي او نیولي دي۔ نوموړی تر دې مخکې هم پنځه ځله د وژونکو بریدونو هدف و، خو خوندي پاتې شوی و. شهید ډي ایس پي اقبال مهمند یو ډېر مهربان انسان ؤ چې د سیمې خلکو او خپلو ماتحتانو سره یې د مینې او خدمت جذبه لرله. شهید ډي ایس پي اقبال مهمند له شعر و شاعرۍ سره ځانګړې مینه درلوده او د خپل چاپیریال او احساساتو عکاسي یې په خپلو شعرونو کې کوله۔

ټول ملت په ځانګړې توګه امنیتي ادارې د ترهګرۍ په ضد جګړه کې دشهید ډي ایس پي اقبال مهمند په سترې قربانۍ ویاړي او په دې عزم یو ځل بیا تاکید کوي چې د ترهګرۍ په ضد جګړه به پایۍ ته په کامیابۍ سره رسوي۔ انشاءالله

مورخه: ۳۰مارچ ۲۰۲۳ء

www.publicvoice.pk